# الانعام

**مکی سورة  دی ۱۶۵ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ
ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ﴿١﴾

**ټوله ثنا او ستاینه د الله پاک لپاره ځانګړې ده چې آسمانونه او ځمکه یې هست کړل او تیاره او رڼا یې جوړه کړه( چې د الله تعالی د توحید او کامل قدرت ګواهی ورکوی) خو بیا هم کافران له خپل رب سره نور شریکان نیسی.**

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٖ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلٗاۖ وَأَجَلٞ مُّسَمًّى عِندَهُۥۖ ثُمَّ أَنتُمۡ
تَمۡتَرُونَ ﴿٢﴾

**( الله تعالی) هغه ذات دی چې تاسو یې له خټې پیدا کړی، بیا یې (ستاسو د  ژوند د بقا لپاره) یوه موده وټاکله، او د قیامت د قیام نېټه هغه ته معلومه ده، خو بیا هم  تاسو( د هغه د واحد ربوبیت او خالقیت په دې ټولو روښانو دلایلو) شکونه کوئ.**

وَهُوَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ يَعۡلَمُ سِرَّكُمۡ وَجَهۡرَكُمۡ وَيَعۡلَمُ مَا
تَكۡسِبُونَ ﴿٣﴾

**همدا یو الله دی چې هم په آسمانونو کی( برحق معبود، مالک، پادشاه، مدبر او متصرف) دی او هم په ځمکه کې. او ستاسو ټول پټ او ښکاره اعمال ورته معلوم دی او د( خیر او شر) په ټولو کړنو مو خبر دی.**

وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٤﴾

**او هره نښه او دلیل چې د الله تعالی له لوری (دې کافرانو) ته راغلی،نو مخ یې ترې اړولی دی.**

فَقَدۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡۖ فَسَوۡفَ يَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ
يَسۡتَهۡزِءُونَ ٥

همدا اوس هم چې حق( قرآن) ورته راغی، دروغ يې وګڼه خو زر به په هغه( ثابت او اصلی) حقيقت خبر شی چې دوی وربانديې ملنديې وهلې( يعنی يا به الهی عذاب ووينی او يا به د اسلام فتح او برلاسی).

أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَا لَمۡ
نُمَكِّن لَّكُمۡ وَأَرۡسَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡهِم مِّدۡرَارٗا وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَنۡهَٰرَ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ٦

آيا نه پوهيږی چې له دوی نه وړانديې موږ( د عاديانو او ثموديانو په شان) ډېر داسې قومونه اوملتونه تباه کړی چې ستاسو نه مو ورته د ژوند ډېر ښه امکانات او نعمتونه ورکړی وو، پرله پسې بارانونه به وربانديې وريدل او رودونه به يې ( په ځمکو کې) روان وو، خو (چې ناشکری يې وکړه)د ګناهونو له امله مو تباه کړل او په ځای مو نور قومونه راپورته کړل.

وَلَوۡ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ كِتَٰبٗا فِي قِرۡطَاسٖ فَلَمَسُوهُ بِأَيۡدِيهِمۡ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ
هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧

( د مکې معظمې مشرکين وايی چې که څلور پرښتې يو ليکل شوی آسمانی کتاب زمونږ مخې ته راوړی او د پيغمبر په حقانيت ګواهی ورکړی، نو موږ به ايمان راوړو).( ای پيغمبره) که موږ تاته يو ليکلی کتاب هم دراستوو، چې دوی يې په خپلو لاسونو لمس کړی، بيا به هم کافران ووايی چې دا خو ښکاره کوډې او جادو دی.

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٞۖ وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ثُمَّ لَا
يُنظَرُونَ ٨

او وايی، ولې په پيغمبر بانديې (زمونږ د سترګو په وړانديې) پرښته نه نازليږی( چې د ده په صداقت ګواهی ورکړی؟) که موږ پرښته( په اصلی شکل) نازله کړو، نو معنی يې دا ده چې( د مجرمينو د هلاکت) فيصله شوې او( بيا يوه شيبه) مهلت هم نه ورکړی کيږی.

وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا

يَلۡبِسُونَ ﴿٩﴾

**(او وايي چې ولې پيغمبر د ملائکو له جنسه نه دی راغلی) که ملائکه مو را استولی وی بیا به هم د انسان په څیره کې راتلی او دوی به مو په هماغه شک او اشتباه کې اچولی وی چې نن وربانديې اخته دی.**

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم

مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿١٠﴾

**ای پیغمبره! ستا نه وړاندې، په نورو پیغمبرانوهم ملنډې وهل شوی چې بیا وروسته ملنډې وهونکی په هماغه عذاب اخته شوی چې دوی( ته ناشونی ښکاریده او) مسخرې یې وربانديې کولې.**

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ

ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١١﴾

**ورته ووایه په ځمکه کې( د سیاحت او څیرنو لپاره) وګرځئ او( په عاقلانه توګه د پخوانیو ولسونو پاتې شوی لرغونی اثار) وګورئ،( درته ثابته به شی چې د انبیاو) تکذیبوونکی له څه ډول ناوړه انجام او عاقبت سره مخامخ شوی دی؟**

قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُل لِّلَّهِۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفۡسِهِ

ٱلرَّحۡمَةَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ ٱلَّذِينَ

خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٢﴾

**ووایه: د آسمانونو او ځمکو( د موجوداتو او ذخایرو مالکیت او حکومت) د چا په ولکه کې دی؟( بیا ورته ووایه د الله تعالی په واک کې دی چې( د خاصې مهربانۍ له مخې یې) رحمت په ځان لازم او مقرر کړی( او د جرایمو په لیدلو سره فوراً مجرمانو ته سزا نه ورکوی او د توبې دروازه ورته خلاصه پریږدی او) یقیناً چې د قیامت په مسلمه او حتمی راتلونکی ورځ به تاسو ټول راجمع کړی. خو هغه کسان چې خپل ځانونه یې (قصداً او په لوی لاس تباه کړی او) زیانمن کړی( په الله تعالی او د آخرت د ورځې په حقانیت) ایمان نه لری.**

۞ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿١٣﴾

او ټول هغه موجودات چې د شپې او ورځې( په اوږدو کې) آرام او ساکن دی، د الله تعالی د مالکیت د قلمرو برخه ده او همدغه( الله تعالی د ټولو اقوالو) اوریدونکی او( په ټولو حالاتو او واقعاتو) پوه ذات دی.

قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيّٗا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُۗ قُلۡ
إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٤﴾

( ای پیغمبره) ووایه: آیا د الله تعالی نه غیر چې د آسمانونو او ځمکې خالق او مؤجد دی، د ځان لپاره بل سرپرست او کار جوړوونکی غوره کړم؟ ( الله تعالی) هغه ذات دی چې نورو ته روزی ورکوی خو خپله له روزۍ اخستلو نه بې نیازه دی. ووایه زه په دې مکلف یم چې له هر چا نه وړاندې د الله تعالی فرمان ته غاړه کیږدم او راته امر شوی چې هیڅکله د مشرکانو په ډله کې و نه دریږم.

قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥﴾

(او ای پیغمبره) ووایه: بیشکه چې زه به د لویې ورځې د عذاب له ویرې، هیڅکله د الله تعالی نافرمانی و نه کړم.

مَّن يُصۡرَفۡ عَنۡهُ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمَهُۥۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٦﴾

څوک چې په دغه ورځ له عذابه وژغورل شی، په حقیقت کې وربانډې د الله تعالی لوی رحم شوی او همدغه ورته څرګند بریالیتوب دی.

وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يَمۡسَسۡكَ
بِخَيۡرٖ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٧﴾

او که الله تعالی تاته ضرر رسوی، بل هیڅوک یې دفع کوونکی نشته، او که خیر ښیګڼه دررسوی( ساتنه او ادامه یې صرف د هغه په لاس کې ده) او هغه په هر کار برلاسی او د کامل قدرت څښتن دی.

وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٨﴾

**الله تعالی پخپلو بندګانو برلاسی او مسلط دی،د حکمت څښتن دی( ټول کارونه یې په حکمت سرته رسی) او له ټولو حالاتو با خبره دی.**

قُلۡ أَيُّ شَيۡءٍ أَكۡبَرُ شَهَٰدَةٗۖ قُلِ ٱللَّهُۖ شَهِيدُۢ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَۚ أَئِنَّكُمۡ لَتَشۡهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخۡرَىٰۚ قُل لَّآ أَشۡهَدُۚ قُلۡ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَإِنَّنِي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴿١٩﴾

**( هغو کافرانو او مشرکانو ته چې ستا د نبوت د حقانیت لپاره ستا نه ګواهی غواړی) ووایه: د چا ګواهی تر ټولو معتبره ده؟ ورته ووایه: الله تعالی زمونږ او ستاسو تر منځ تر ټولو ښه او موثق ګواه دی چې دا قرآن ما ته د وحې په وسیله نازل شوی تر څو د هغه په وسیله تاسو او نور هغه کسان چې دا قرآن ورته رسیږی، د الله تعالی له عذابه وویروم. آیا ستاسو سره په خپله دې ادعا کی چې له الله تعالی سره نور شریکان ټاکی، کوم موثق دلیل شته ؟ ورته ووایه( دا چې هیڅ معتبر دلیل نه لرئ) نو زه هم ستاسو په ادعا د تائید ګواهی نه ورکوم. ووایه: الله تعالی یوازینی او لا شریک ذات دی او زه ستاسو له باطلو خدایانو نه کامله بیزاری اعلانوم.**

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمُۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٠﴾

**هغه کسان( یهودیان او عیسویان) چې آسمانی کتاب ورکړی شوی، لکه څنګه چې( په ډیرو هلکانو کې) خپل زامن ښه پیژنی( او شک پکې نه کوی، پخپلو کتابونو کې ذکر شوی قرآن او آخرزمان) پیغمبر هم ښه پیژنی( او په حقانیت کې یې هم څه شک نه لری،خو بیا یې هم) خپل ځانونه تاوانی کړی او (د حسد او کبر له امله) ایمان نه راوړی.**

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢١﴾

**او له هغه نه لوی ظالم بل څوک کیدی شی( بلکه بل ظالم ترې نشته) چې په الله تعالی باندی د دروغو تهمت تړی او له آیتونو یې انکار کوی. بیشکه چې دا ډول ظالمان بریالیتوب او نیکمرغی ته نشی رسیدی.**

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوٓاْ أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ
تَزْعُمُونَ ﴿٢٢﴾

او په هغه ورځ( قیامت) چې ټول راجمع کړو، مشرکانو ته به ووایو: چیرې دی ستاسو هغه باطل خدایان چې تاسو ورباندې د الله تعالی د شریکانو ګومان کاوه( تر څو نن تاسو له عذاب نه خلاص کړی؟)

ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿٢٣﴾

نو بیا به ورته هیڅ بهانه او عذر پاتې نشی، بې له دې چې وایی به: په خپل رب، الله مو قسم چې مونږ مشرکان نه وو.

ٱنظُرْ كَيْفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ ۚ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

وګوره څنګه له خپلو خبرو منکریږی او هغه باطل خدایان یې هم تری تم کیږی چې دوی له الله تعالی سره شریک ګڼل.

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ
ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِن يَرَوْاْ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُواْ بِهَا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوكَ يُجَٰدِلُونَكَ
يَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾

د هغوی یوه ډله ستا خبرو ته غوږ نیسی خو مونږ یې زړونه ( د دوی د کفر او لجاجت له امله) په پردو کې نغښتی ( چې ستا په خبرو نه پوهیږی) او په غوږونو مو ورته دروندوالی مسلط کړی( چې ستا خبرې نه اوری) او کله چې ټولې حقه نښانې او معجزېووینی، بیا هم ایمان نه راوړی، ان تر دې چې کله تاته راشی نو کافران درته په لجوجانه توګه وایی: دا قرآن خو صرف د زړو کیسو یوه مجموعه ده.

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۖ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا
يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

( د دوی بل جرم دا دی چې) هم پخپله( له قرآن او پیغمبر) سره دښمنی کوی او هم ترې نور خلک منع کوی. (دوی په دغه ډول کړنو سره) پرته له دې چې ځانونه تباه کوی، بل چاته زیان نه رسوی خو بیاهم نه پوهیږی.

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُواْ يَٰلَيۡتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ
مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٧

**که ته يې ووينې(څومره ويروونکى او زړه بوګنوونکى منظر به وى) چې دوى (خوار او ذليل د دوزخ) د اور په څنډو ولاړ وى( د پښيمانۍ اوښکې تويوى )او وايى به : کاش که بيرته دنيا ته وګرځو، نو د خپل رب آيتونه به دروغ و نه ګڼو او د مؤمنانو په حيث به ژوند وکړو.**

بَلۡ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخۡفُونَ مِن قَبۡلُۖ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ
لَكَٰذِبُونَ ٢٨

**( خو دغه ارزو يې هم د زړه له اخلاصه نه ده بلکه د توحيد، نبوت او معاد حقيقت) چې پخوا يې پرې پردې اچولې( او ترې منکر وو) اوس ورته روښانه شو( ځکه خو بيرته د دنيوى ژوند ارمانونه کوى) او که احياناً بيرته دنيا ته لاړ هم شى،( پخپل پخوانى شرک او کفر کې به) چې ورنه منع کړى شوى وو، بيا ډوب شى، ځکه چې دوى (حرفوى او پاخه) دروغجنان دى.**

وَقَالُوٓاْ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ٢٩

**او( کافران) وايى چې ژوند خو يوازې همدا د دنيا ژوند دى او( پس له مرګه)بيا نه راژوندى کيږو.**

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ قَالَ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ
فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٠

**او (که هغه حالت يې) ووينې چې د خپل رب( د عدالت په محکمه کې ولاړ دى ورته حيران به شي) الله تعالى به وفرمايى: آيا( پس له مرګه ژوندون) حق نه دى؟ دوى به ووايى: په الله قسم چې حقيقت دى. الله تعالى به ورته ووايى: اوس نو د خپل کفر او عناد په سزا کې له عذابه خوند واخلئ.**

قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ قَالُواْ
يَٰحَسۡرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطۡنَا فِيهَا وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ أَوۡزَارَهُمۡ عَلَىٰ ظُهُورِهِمۡۚ أَلَا
سَآءَ مَا يَزِرُونَ ٣١

بیشکه په سخت زیان کی دی هغه کسان، چې د الله تعالی له ملاقات نه منکریږی( او د قیامت حساب کتاب او مکافات او مجازات نه منی). تر دې چې قیامت ورباندې راشی( او د پښیمانی لاس ومروړی) او ووایی:
افسوس دی په مونږ، چې په څومره غفلت کې پراته وو او د دې ورځې لپاره هیڅ توښه نه لرو. دوی به اوس د خپلو گناهونو دروند پیټی په اوږو گرځوی، پام وکړی، څومره بد پیټی دی چې د دوی په اوږو پروت دی.

وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٣٢﴾

د دنیا ژوند( د ایمان او نیک عمل نه غیر) یوه لوبه او ساعت تیری ده او بیشکه چې آخرت د پرهیزگارانو لپاره تر ټولو ښه اوغوره ژوند دی. نو آیا له عقل نه کار نه اخلئ( او ایمان نه راوړئ؟)

قَدۡ نَعۡلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحۡزُنُكَ ٱلَّذِي يَقُولُونَۖ فَإِنَّهُمۡ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٣٣﴾

( ای پیغمبره!) مونږ پوهیږو،چې ته(د کافرانو او مشرکانو) په خبرو سخت خفه کیږې او زوریږې، خو دغه ظالمان یوازې ستا له نبوت نه انکار نه کوی بلکه له لویه سره د الله تعالی آیتونه( چې ستا د نبوت د اثبات لپاره نازل شوی) هم دروغ گڼی.

وَلَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمۡ نَصۡرُنَاۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ وَلَقَدۡ جَآءَكَ مِن نَّبَإِيْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣٤﴾

حقیقت دا دی چې ستا نه وړاندې هم  پیغمبران درواغجن گڼل شوی خو هغوی، دغه ټول تومتونه او زوروني په سره سینه او ورین تندی زغملی، تر هغه چې زمونږ مرسته وررسیدلې( نو ته هم باید صبر وکړې، دا د الله تعالی سنت او قانون دی) او هیڅوک د الله تعالی قانون نشی بدلولی او تاته د پیغمبرانو د ژوندانه واقعات هم (په الهی کلام کې) بیان شوی( او خبر شوی یې چې رسالت له تکلیفونو او مشکلاتو سره مل دی، خو انجام او عاقبت یې په دنیا کې فتحه او په آخرت کی د جنت اعلی مقام دی).

وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكَ إِعۡرَاضُهُمۡ فَإِنِ ٱسۡتَطَعۡتَ أَن تَبۡتَغِيَ نَفَقٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ
أَوۡ سُلَّمٗا فِي ٱلسَّمَآءِ فَتَأۡتِيَهُم بِـَٔايَةٖۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمۡ عَلَى
ٱلۡهُدَىٰۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٥﴾

( او كه له قرآن او ستا له نبوت سره) د هغوی دښمنی او مخالفت، په تا دروند تماميږی( او صبر وربانديِ نشي كوليِ) نو كه وس لريِ په ځمكه كي تونل وكينه يا آسمان ته پوړی كيږده او د دوی فرمايشی معجزيِ ورته حاضريِ كړه( البته واوره چي دوی به بيا هم قانع نشی، نو په سړه سينه خپل دعوت او تبليغ ته ادامه وركړه) كه الله تعالى اراده وكړی، دوی به ټول( طوعاً او كرهاً) د هدايت په لار روان كړی( خو په ايمان راوړلو كي جبر او اكراه نشته.) نو ته د هغو كسانو په لار مه ځه چي (د الله تعالى د احكامو او قوانينو څخه) ناخبره دی.

۞إِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسۡمَعُونَۘ وَٱلۡمَوۡتَىٰ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيۡهِ
يُرۡجَعُونَ ﴿٣٦﴾

يوازيِ هغه كسان (ستا دعوت ته) لبيک وايی چي( ستا خبريِ په دقت، تدبر او تفكر او د زړه په مينه) اوری، (لجوج مشركان او كافران له قلبی او روحانی لحاظه) د مړو په شان دی او مړی خو، الله تعالى( د قيامت په ورځ) راژوندی كوی او بيا به الهی عدالت ته ورگرځی ( نو دوی به هم په قيامت كي هغه واقعيتونه ومنی چي نن تريِ منكر دی) .

وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةٗ
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٧﴾

او( دغه زړه مړی كافران ) وايی چي ولي په ديِ پيغمبر، د ده د رب له لوری(زموږ د خوښي او قناعت وړ معجزه)نه نازليږی؟ ورته ووايه: بی له شكه الله تعالى دا قدرت لری چي( ستاسو فرمايشی معجزه) نازله كړی، خو د دوی زياتره كسان (د شرايطو او موقعيتونو په تفكيک) نه پوهيږی(او په دی هم نه پوهيږی چي د ځينو معجزو نزول او بيا تريِ د څو تنو انكار، د ولسونو د تباهی سبب كيږی.)

وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ مَّا
فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ﴿٣٨﴾

( الله تعالی د ټولو کائناتو او موجوداتو خالق دی) او د ځمکې ټول ساکښ او په هوا کې په غبرګو وزرونو الوتونکی مارغان، ستاسو په شان د مخلوقاتو بیلابیلې ډلې او انواع دی (چې هریو یې جلا جلا خصلت او د ژوند نظام لری). مونږ د ( لوح محفوظ) په کتاب کې د هر شی تقدیر پوره پوره لیکلی او( د لنډ دنیوی ژوند له تیریدو وروسته به) بیا ټول د الله تعالی حضور ته ورګرځی( او حساب کتاب به ورسره کیږی).

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا صُمّٞ وَبُكۡمٞ فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضۡلِلۡهُ

وَمَن يَشَأۡ يَجۡعَلۡهُ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٩

هغه کسان چې زمونږ  د آیتونو( او احکامو له منلو) انکار کوی لکه کاڼه او ګونګیان( د جهل او کفر) په تیارو کی (لاس پښې وهی). هر چاته چې الله تعالی اراده وکړی، بې لارې کوی یې( او همدا یې له الهی آیتونو نه د انکار سزا ده) او هر چا ته چې اراده وکړی د هدایت په مستقیمه لار یې روانوی( او همدغه یې په الهی آیتونو د تصدیق او ایمان اجر او مکافات دی).

قُلۡ أَرَءَيۡتَكُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوۡ أَتَتۡكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ

تَدۡعُونَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤٠

ورته ووایه ښه فکر وکړئ او په صداقت سره ووایئ که الهی عذاب درباندې رانازل شی او یا درباندې قیامت راشی،نو( د دنیوی او اخروی عذاب نه د نجات لپاره) د الله نه غیر، له چا نه مرسته غواړئ؟

بَلۡ إِيَّاهُ تَدۡعُونَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُونَ إِلَيۡهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوۡنَ مَا

تُشۡرِكُونَ ٤١

بلکه( په دغسې اضطراری حالاتو کې) تاسو یوازې له الله تعالی نه د مرستې غوښتنه کوئ، او هغه یوازینی ذات دی چې که وغواړی ستاسو نه غم او مصیبت لیرې کولی شی، او همدغه وخت دی چې بیا مو( خپل باطل خدایان او بتان) کاملاً له یاده ووځی.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ

يَتَضَرَّعُونَ ٤٢

( ای پیغمبره ته مه غمجن کیږه) بیشکه مونږ ستا نه وړاندنیو امتونو ته هم پیغمبران استولی وو( خو کله چې هغوی د پیغمبرانو د دعوت په ضد د مخالفت او دښمنۍ جنډې اوچتې کړې) نو مونږ هم په مصیبتونو، غمونو او  مهلکو ناروغیو اخته کړل، تر څو بیرته  په تضرع او عاجزۍ  سره( الله تعالی ته) رجوع وکړی.

فَلَوۡلَآ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَزَيَّنَ لَهُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾

خو ولې يې د عذاب په ليدلو سره( الله تعالى ته ) په عاجزۍ توبه ونه ويسته، بلکه زړونه يې ( د اسلامی دعوت په مقابل کې لکه تيږې) سخت شول، او شيطان يې ورته (ناوړه) اعمال، په نظر کی لا ښکلی او خوندور وځلول.

فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ
حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةً فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ﴿٤٤﴾

نو کله چه يې( د عبرت اخستنې لپاره ټول حقايق او) لارښوونې له ياده وويستې، مونږ ورته د ډول ډول نعمتونو او سهولتونو دروازې خلاصی کړې او چې دوی پکې د افراطی خوښيو او غرور حد ته ورسيدل نو بيا مو په داسې ناڅاپی عذاب اخته کړل( چې د نجات هره دروازه يې په مخ وتړل شوه) او دوی ترې نا اميده ستانه شول.

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْۚ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٥﴾

(په نتيجه کې) د ظالمانو جرړې وايستل شوې، او ټولې ستاينې د الله تعالى ذات ته ځانګړې دی چې د کائناتو مالک او پالونکی دی( او ظالمانو ته مناسبه سزا ورکوی).

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمۡعَكُمۡ وَأَبۡصَٰرَكُمۡ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنۡ إِلَٰهٌ
غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِهِۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ هُمۡ
يَصۡدِفُونَ ﴿٤٦﴾

هغو کسانو ته( چې په خپل خام خيال يې له الله تعالى سره باطل شريکان ټاکلی) ووايه: ماته ځواب راکړی که الله تعالى درنه غوږونه او سترګې( د اوريدو او ليدلو قوت) واخلی او په زړونو درته( د بدبختۍ) مهرونه ولګوی( چې په هيڅ و نه پوهيږئ) د الله تعالى نه غير، بل داسې خدای شته چې بيرته يې درته ورغوی؟( بلکه نشته)( ای پيغمبره!) په غور سره وګوره مونږ څنګه خپل آيتونه او دلايل( د دوی د هدايت لپاره په بيلابيلو ډولونو) بيانوو خو بيا هم هغوی له حق نه مخ ګرځوی.

قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا
ٱلْقَوْمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٧﴾

**ورته ووایه: که ناڅاپی او په ښکاره توګه د الله تعالی عذاب( لکه آسمانی تکه او صیحه یا مرګونی ناروغی) را نازله شی نو غیر له ظالمانو به نور څوک هلاک کړی؟**

وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ ءَامَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا
خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾

**او پیغمبران مو یوازې د دې لپاره استولی چې( خلکو ته د ایمان او نیکو اعمالو په مقابل کې د اجر او ثواب او دایمی نیکمرغۍ) زیری ورکړی او( د کفر،شرک، مفاسدو او ګناهونو په مقابل کی یې له سخت الهی عذاب نه) وویروی. نو هغه کسان چې د پیغمبرانو په دعوت ایمان راوړی او اصلاح شی، نه به یې( له کوم شر او مصیبت نه) ویره او ترهه وی او نه به ورته کوم غم او درد رسیږی.**

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلْعَذَابُ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾

**او هغه کسان چې زمونږ( دلایل او قرآنی)آیتونه دروغ ګڼی نو د نافرمانۍ له امله به ورته عذاب ورکول کیږی.**

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ
إِنِّى مَلَكٌ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ
وَٱلْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾

**( ای پیغمبره خلکو ته) ووایه: زه تاسو ته نه وایم چې د الله تعالی ټولې زیرمې او خزانې زما سره دی( چې تاسو ته به یې درکړم)، نه په غیبو پوهیږم او نه ادعا کوم چې پرښته یم، بلکه زه د الهی وحی پیروی کوم. ووایه: آیا ړانده او لیدونکی ( یعنی ګمراه کافران او د هدایت په لاره روان مؤمنان او د بصیرت خاوندان) سره برابر دی( او د الله تعالی په حضور کې یو شان حیثیت لری؟) ولې له تفکر او تدبر نه کار نه اخلۍ؟( تر څو د دواړو حیثیت او مقام درته څرګند شی).**

وَأَنذِرۡ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحۡشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ لَيۡسَ لَهُم مِّن
دُونِهِۦ وَلِيّٞ وَلَا شَفِيعٞ لَّعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾

او د دې قرآن په وسیله هغه( مؤمنان) چې د خپل رب په حضور کې د حاضریدو فکر ورسره دی، وویروه (چې په دغه هیبتناکه ورځ) د دوی لپاره د الله تعالی نه غیر، بل سرپرست او شفاعت کوونکی نشته، تر څو دوی(لاپسې) د تقوا لاره ټینګه کړی (او له ګناهونو ځان لیرې وساتی).

وَلَا تَطۡرُدِ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ مَا
عَلَيۡكَ مِنۡ حِسَابِهِم مِّن شَيۡءٖ وَمَا مِنۡ حِسَابِكَ عَلَيۡهِم مِّن شَيۡءٖ
فَتَطۡرُدَهُمۡ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾

او( د مشرکو مشرانو په فرمایش) هغه کسان( مؤمنان) له ځانه مه شړه چې سهار ماښام، الله تعالی ته دعاګاني کوی (او هر وخت په عبادت مصروف دی )او هدف یې د الله تعالی رضا او خوښی ده. نه ته د هغوی د حساب ذمه وار یې او نه هغوی ستا د چارو مسئول دی. که ته( د مشرکانو په فرمایش) مؤمنان له خپل څنګ نه وشړې نو په ظالمانو کې به وشمیرل شې.

وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم
مِّنۢ بَيۡنِنَآۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾

او په دې ډول، مونږ ځینی په ځینو(سرداران او شتمن، په هغو بې وسه مؤمنانو چې ستا په څنګ کې ناست دی) وازمایل، ترڅو( سرداران په حیرانی او استهزا سره) ووایي: آیا همدا کسان دی چې الله زمونږ له ډلې خوښ کړل؟( په خواب کې ورته وویل شول چې)آیا الله تعالی پخپله( د اسلام په نعمت باندې) شکرګزاران نه پیژنی؟( بلکه پیژنی یې او خپل فضل او رحمتورباندې لوروی.)

وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۖ كَتَبَ
رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَۖ أَنَّهُۥ مَنۡ عَمِلَ مِنكُمۡ سُوٓءَۢا
بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٤﴾

**او كله چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړونكی، تاته راشي، ورته ووايه: سلام دې وی په تاسو،( واوری!) ستاسو رب، په خپل ځان، رحمت لازم او مقرر كړی دی، نو ستاسو له ډلې كه كوم تن، په ناپوهۍ سره كوم ناوړه عمل وكړی او بيا وروسته توبه وباسی( او خپل مفاسد) اصلاح كړی( د الله تعالی د ببښنې او رحمت وړ ګرځی) ځكه چې هغه ډېر زيات ببښونكی او مهربان ذات دی.**

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلِتَسۡتَبِينَ سَبِيلُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٥٥﴾

**او په دې توګه مونږ خپل آيتونه بيانوو، تر څو د ګناهكارانو ناحقه لار (د مؤمنانو له مستقيمې لارې څخه) تفكيک او روښانه شی.**

قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ
أَهۡوَآءَكُمۡ قَدۡ ضَلَلۡتُ إِذٗا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿٥٦﴾

**ورته ووايه: زه د هغو باطلو خدايانو له پرستش نه چې تاسو د الله تعالی په مقابل كې غوره كړې، منع شوی يم. ووايه: زه ستاسو د نفسی خواهشاتو پيروی نه كوم، (كه يې وكړم) زه به بې لارې يم او د لاره موندونكو په ډله كې به و نه شميرل شم.**

قُلۡ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبۡتُم بِهِۦۚ مَا عِندِي مَا
تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦٓۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ يَقُصُّ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ خَيۡرُ
ٱلۡفَٰصِلِينَ ﴿٥٧﴾

**ورته ووايه: زه د (قرآن) په واضح شريعت روان يم چې زما د رب له لوری نازل شوی او تاسو يې دروغ ګڼۍ. هغه عذاب چې تاسو يې په تلوار او عجله غواړی، زما په اختيار كې نشته، فرمان او حكم يوازې د الله تعالی په واک كې دی، الله تعالی تل حق بيانوی او( د حق او باطل) ترمنځ تر ټولو ښه قضاوت كوونكی او جلا كوونكی دی.**

قُل لَّوْ أَنَّ عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِيَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِي
وَبَيْنَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٨﴾

ورته ووايه: که هغه عذاب چې تاسو يې په تلوار او بې له ځنډه غواړئ، زما په اختيار کې وی( نو زر تر زره به مې نازل کړی وی او) زمونږ او ستاسو ترمنځ به چټکه فيصله شوې وه( خو کارونه د الله تعالی په واک کې دی) او الله تعالی د ظالمانو په حال ډېر ښه پوهيږی( چې کله او څه ډول سزا ورکوی).

۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي ٱلْبَرِّ
وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَٰتِ
ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾

او د غيب خزانې(د قيامت قيام، د باران ورښت، د مور په رحم کې د ماشوم د سرنوشت پيژندګلوی، د سبا ورځې واقعات او د مرګ د وخت او ځای علم ) يوازې د الله تعالی سره دی او له هغه ذات نه غير، ورباندې هيڅوک نه پوهيږی. د وچې او سمندر ټول معلومات او اسرار هغه ته معلوم دی او د ( ونو او نباتاتو) هره پاڼه چې راپريوزی، الله تعالی ورباندې خبريږی او هره دانه چې د ځمکې د تل په تاريکيو کې پرته ده او ټول لانده او وچ د الله تعالی په علم کی شامل او په روښانه کتاب( لوح محفوظ) کې ثبت او ليکل شوی دی.

وَهُوَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ
يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ
يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې د شپې( د خوب په وخت کې ستاسو نه د احساس او شعور قوت اخلی او په يو ډول) مو روح قبضوی او د ورځنی ژوند ټول فعاليتونه مو ورته ښه معلوم دی او د ورځې مو بيرته راويښوی.(دغه د ويښې او خوب سيستم ستاسو) د مرګ تر ټاکلې مودې پورې روان دی. بيا د قيامت په ورځ، د الله تعالی حضور ته ورګرځئ چې د اعمالو( مکافات او مجازات) به درته اعلان کړی.

وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۖ وَيُرۡسِلُ عَلَيۡكُمۡ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ
أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾

او هماغه مقتدر ذات په خپلو بندګانو کاملاً غالب او مسلط د ی او څارونکي پرښتې( کرام الکاتبين يې ستاسو د اعمالو د ليکلو لپاره) دراستولې، تر څو مو د مرګ نيټه راورسي او بيا زمونږ( نورې) پرښتې ستاسو روح واخلي( او له لومړنيو او وروستيو هيڅ يوه پرښته) په خپلو وظايفو کې غفلت او ناراستي نشي کولی.

ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ
ٱلۡحَٰسِبِينَ ﴿٦٢﴾

بيا دوی د خپل حقيقي بادار او سرپرست، الله تعالی حضور ته ورګرځي. خبردار! چې په دغه ورځ، ټوله واکمني او حکومت، يوازې د الله تعالی دی چې د حساب کتاب د چټک سيستم لرونکی دی(او په يوه لنډه شيبه کې، هر چاته د هغه د ټولو کړنو نتايج اوروی).

قُلۡ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ تَدۡعُونَهُۥ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةٗ لَّئِنۡ
أَنجَىٰنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٣﴾

ای پيغمبره! له دوی پوښتنه وکړه چې کوم مقتدر ذات مو د بيديا او سمندر په ترګميو کې، (د مرګ له خطره) ژغوري ؟ کله چې ورته د خپل نجات لپاره په تضرع او پټه پټه، دعاګانې کوئ،( او ورته وايئ): (ای پاکه ربه! که له دې مصيبت او مهلکې نه مو) خلاص کړی نو مونږ به دې (د احسان او نعمت پوروړی او) مشکور يو.

قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنۡهَا وَمِن كُلِّ كَرۡبٖ ثُمَّ أَنتُمۡ تُشۡرِكُونَ ﴿٦٤﴾

ورته ووايه: يوازې د الله تعالی ذات دی چې تاسو ته له دغه مصيبت او هر غم او کړاو نه نجات درکوی خو بيا هم دا تاسو( ناشکران ياست چې له خپل واحد او لاشريک رب سره په خدايۍ کې) نور باطل شريکان او خدايان غوره کوئ.

قُلۡ هُوَ ٱلۡقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبۡعَثَ عَلَيۡكُمۡ عَذَابٗا مِّن فَوۡقِكُمۡ أَوۡ مِن تَحۡتِ
أَرۡجُلِكُمۡ أَوۡ يَلۡبِسَكُمۡ شِيَعٗا وَيُذِيقَ بَعۡضَكُم بَأۡسَ بَعۡضٍۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ
ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَفۡقَهُونَ ٦٥

**ورته ووایه: الله تعالی دا هم کولی شی چې له پورته ښکته( له آسمان او ځمکې) دربانديِ عذاب نازل کړی، یا مو په ډلو ټپلو( او ګوندونو) سره وویشی،پخپل منځی جګړو مو اخته کړی او یوه ډله مو، د بلې په زور او ضربو وځپی.(ای پیغمبره!) وګوره په څومره صراحت ورته د خپل قدرت نښانې بیانوو، تر څو( له تأمل او تفکر نه کار واخلی او په حقایقو) پوه شی.**

وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوۡمُكَ وَهُوَ ٱلۡحَقُّۚ قُل لَّسۡتُ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ٦٦

**او( ای پیغمبره!) ستا قوم( قریشو) قرآن دروغ وګاڼه، په داسې حال کې چې دا( د الله تعالی) حق کتاب دی. ورته ووایه: زه ستاسو( د هدایت، مکافات او مجازات) لپاره محافظ او څارونکی نه یم ټاکل شوی( او نه ستاسو د اعمالو ذمه وار یم).**

لِّكُلِّ نَبَإٖ مُّسۡتَقَرّٞۚ وَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٦٧

**هر خبر ( د زیری او ویرې چې په قرآن کې ذکر شوی، د وقوع او تحقق لپاره یې) یو وخت ټاکل شوی، چې په هماغه ټاکلی وخت به یې (له ظهور او تحقق نه) خبر شی.**

وَإِذَا رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي
حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَلَا تَقۡعُدۡ بَعۡدَ ٱلذِّكۡرَىٰ مَعَ
ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٦٨

**او( که په کومه غونډه کې دی) ولیدل چې زمونږ په آیتونو ملنډې او انتقادونه روان دی نو مخ ترې وګرځوه او له غونډی یې ووځه، تر هغه چې د بحث موضوع بدله کړی. او که شیطان درنه( زمونږ دا حکم) هیر کړ نو له بیرته یادښت سره سم (ترې بی له ځنډه ووځه، او) د ظالمانو په بنډارونو کې، مه کښینه.**

وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَلَٰكِن
ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ٦٩

په پرهیزګارانو بانديٍ( چې له دغه ډول غونډو څخه د اعتراض په توګه وځی، د دغو ظالمانو د خبرو) هیڅ ګناه او ذمه واری نشته، خو باید نصیحت ورته وکړی ترڅو( له دغه ډول ناروا خبرو نه) لاس واخلی.

وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ
وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ
وَلِىٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ أُبْسِلُوا۟ بِمَا كَسَبُوا۟ ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا
كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ٧٠

او پریږده هغه خلک چې له خپل دین نه یې لوبه او ننداره جوړه کړې او دنیوی ژوند تیرویستلی او مغرور کړی دی. هو( د خپل رسالت په اساس) د قرآن په احکامو هر چاته وعظ او نصیحت وکړه،هسې نه چې څوک د خپلو ګناهونو له امله په داسې ډول هلاک شی، چې نه یې ( له دنیوی آفاتو څخه د ژغورلو لپاره) کوم ملاتړی او مرستندوی پیدا شی او نه یې ( له اخروی عذابه د خلاصون لپاره) کوم سفارش کوونکی. او نه یې د نجات لپاره کومه فدیه او معاوضه ومنل شی . دا هغه خلک دی چې د خپلو ناوړو کړو وړو د سزا په اور کې سوزی او د خپل کفر( او ګمراهۍ) له امله یې جوشیدلې اوبه او دردناک عذاب په برخه دی.

قُلْ أَنَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا
بَعْدَ إِذْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُۥٓ
أَصْحَٰبٌ يَدْعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلْهُدَى ٱئْتِنَا ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۖ
وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٧١

(ای پیغمبره!) له دوی پوښتنه وکړه : آیا د الله تعالی په مقابل کې، د داسې باطلو خدایانو عبادت وکړو چې نه راته ګټه رسولی شی نه ضرر. او آیا سره له دې چې الله تعالی د هدایت په مستقیمه لاره روان کړی یو، مونږ ترې بیرته په شا لاړ شو او د هغه( مسافر)په شان شو چې شیطانانو ترې لاره ورکه کړی او په بیدیا کې حیران او پریشان ( ښکته پورته ځغلی ) په داسې حال کې چې ملګری یې ورته (د خواخوږۍ له مخې) نارې وهی چې راشه زمونږ خواته( سمه لاره دا ده، خو دی یې د مخبوط الحواسی له امله نه منی). ای پیغمبره! ووایه؛ واقعی هدایت هماغه د الله تعالی غوره کړی هدایت دی او مونږ ته امر شوی چې په مخلصانه توګه د کائناتو حقیقی رب ته تسلیم شو.

وَأَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٢﴾

او (دا راته هم امر شوی چې) لمونځ وکړئ( او د لمانځه نظام قائم کړئ) او د الله تعالی له نافرمانۍ نه ځان وساتئ، هغه ذات چې تاسو به یې خامخا حضور ته ورګرځئ.

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ ٱلْحَقُّ ۚ وَلَهُ ٱلْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ ۚ عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٧٣﴾

او الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه یې په حقه( او خاص تدبیر) پیدا کړی ( او د هر شی په پیدایښت کی یې یوه خاصه ګټه او مصلحت هم پروت دی او یاد کړه ) هغه ورځ چې وبه وایی( الله تعالی هر شی ته چې) پیدا شه. او بیا به هغه شی (بې له ځنډه) پیدا شی. د هغه وینا حقه( او فرمان یې نافذالعمل) دی، په کومه ورځ چې شپیلی ووهل شی،( ټول ظاهری او مجازی سلطنتونه او حکومتونه به رنګ او) مطلق حاکمیت او واکمنی به یوازې او یوازې د الله تعالی وی. (هغه ذات چې د کائناتو اومخلوقاتو) په پټو او ښکاره کړنو عالم، په خپلو چارو کې د حکمت خاوند( ټول احکام او فیصلې یې په حکمت او مصلحت ولاړې ) او با خبره او پوه ذات دی.

۞ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا ءَالِهَةً ۖ إِنِّىٓ أَرَىٰكَ وَقَوْمَكَ فِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٧٤﴾

او (ای پیغمبره! عرب مشرکانو ته چې ځانونه د ابراهیم علیه السلام پیروان ګڼی او ورباندې ویاړی، د هغه د پاکې اسلامی عقیدې داستان بیان کړه) کله چې ابراهیم خپل پلار آزر ته وویل: آیا بتان په خدایۍ نیسې؟( له عاقل او اکرم المخلوق انسان سره نه ښایی چې پخپلو لاسو جوړو شویو مجسمو ته د الله تعالی نوم او درجه ورکړی، او په سجده ورته پریوزی ) تا او قوم دې ګورم چې په ښکاره ګمراهی کې روان یاست.

وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُوقِنِينَ ٧٥

او په همدې توګه، مونږ په آسمانونو او ځمکه باندې د خپل سلطنت، واکدارۍ او ربوبيت نظام، ابراهيم ته وروښود، تر څو په رښتينو باور کوونکو کې وشميرل شي( او هم ورته زما د وحدانيت او کامل قدرت د اثبات او د خپل قوم د کفرى او مشرکانه عقائدو د ابطال غوره دليل شي).

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ
أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ٧٦

نو کله چې د شپې تياره راخوره شوه، ځليدونکی ستوری يې وليد،ويې ويل (په فرضی توګه او ستاسو په زعم) دا زما رب دی. خو کله چې ستوری پريوت،( د ستاره پرستانو د عقيدې د رد او محکوميت لپاره يې) وويل: زه په پريوتونکی او محوه کيدونکی پورې زړه نه تړم (او نه يې بايد عبادت وشی).

فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي
لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧

بيا يې چې کله (د افق په څنډه) ځلانده سپوږمی وليده ويې ويل:(په فرضی توګه او ستاسو په زعم) دا زما رب دی.خو کله چې هغه هم پريوته نو( د سپوږمۍ پرستانو دعقيدې د رد او غندلو لپاره يې) وويل: که رب مې ماته لارښوونه و نه کړی زه به هم د ګمراهی په شاړو سر شم.

فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ
قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٧٨

او کله چې يې لمر( د افق په څنډه) راختلی وليد، ويې ويل( په فرضی توګه او ستاسو په زعم) دا زما رب دی( ځکه له ستوری او سپوږمۍ) لوی دی خو کله چې لمر هم پريوت،( د لمر پرستانو د عقيدې د ردولو او غندلو لپاره يې) وويل: ای زما قومه! بيشکه زه له هغو ټولو( باطلو خدايانو) بيزاره يم چې تاسو يې له الله تعالی سره شريکان ګڼئ.

إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ حَنِيفًاۖ
وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٧٩

زه مې مخ په پوره اخلاص سره د هغه ذات په لوری اړوم چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړې او هيڅکله به هم د مشرکانو په ډل، ډل کښينږدم.

وَحَآجَّهُۥ قَوْمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا
تُشْرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيْـًٔاۗ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ
عِلْمًاۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠

(خو له دې ټولو دلايلو سره سره يې) قوم ورسره په بې منطقه جدال او ناندرو پيل وکړ او( له خپلو باطلو خدايانو له قهره يې ويراوه.) ابراهيم وويل: آيا تاسو د الله تعالی په باب زما سره بحث او جنجال کوئ، په داسې حال کې چې الله تعالی ماته لارښوونه کړې( او د هدايت په مستقيمه لاره يې روان کړی يم). زه له هغو( باطلو خدايانو او بتانو څخه) نه ويرېږم چې تاسو يې له الله تعالی سره شريکان نيسی بلکه( په دې باورمن يم چې ماته هغه څه رسی) چې زما رب ماته مقرر کړی دی.زما د رب علم په ټولو کائناتو مسلط او محيط دی، نو ولې پند نه اخلی( د غفلت له خوبه نه ويښيږئ او د الله تعالی په وحدانيت ايمان نه راوړئ؟)

وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم
بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًاۚ فَأَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِٱلْأَمْنِۖ
إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ٨١

او ولې زه له( بې ځانه جامدو بتانو څخه چې تاسو فقط د خپل جهالت له مخې له الله تعالی سره) شريکان ټاکلی وويرېږم، او تاسو نه ويرېږئ چې د کائناتو د خالق سره داسې شريکان ټاکئ چې د حقانيت لپاره يې هيڅ حکم او فرمان نه دی صادر شوی، او که پوهيږئ نو ووايئ چې کومه ډله(د الله تعالی له عذابه) د پوره امنيت او ډاډمن ژوند مستحقه ده( بت پرستان که خداپرستان) ؟

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَـٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٨٢﴾

په حقيقت کې خو داډمن او له امنيت نه برخمن کسان هغه دی چې ايمان يې راوړی او خپل ايمان يې په ظلم( شرک) نه دی ملوث کړی. همدغه کسان( د حق او حقيقت په مستقيمه لاره برابر) روان دی.

وَتِلۡكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيۡنَـٰهَآ إِبۡرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦۚ نَرۡفَعُ دَرَجَـٰتٍ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾

دا( د الله تعالی د الوهيت او وحدانيت هغه انکار نه منونکی) دلايل وو، چې ابراهيم ته مو د هغه له قوم سره د مقابلې لپاره ورکړل. (دا زمونږ قانون او سنت دی چې) چاته مو اراده وشی( په علم او حکمت سره يې) درجې لوړووو. بيشکه چې ستا رب د حکمت څښتن او ښه پوه دی( چې څوک د ترفيع او عزت مستحق دی او څوک د ذلت او مسکنت؟)

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَـٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ كُلًّا هَدَيۡنَاۚ وَنُوحًا هَدَيۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَـٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَـٰرُونَۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٨٤﴾

او مونږ ابراهيم ته اسحاق( زوی) او يعقوب( لمسی) وربښلی وو، او هر يوه ته مو سمه لاره وربښودلې وه،( هغه سمه لاره چې) له دې وړاندې مو نوح ته وربښوولې وه او د نوح له اولادې نه مو، داود، سليمان، ايوب، يوسف، موسی او هارون هم وربښودې نازولی وو، (او لکه څنګه چې مو دغو پيغمبرانو ته اجر ورکړی نورو ته‌ولو) نيک عملو کسانو ته هم مناسب اجر او ثواب ورکوو.

وَزَكَرِيَّا وَيَحۡيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلۡيَاسَۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾

او زکريا، يحيی، عيسی او الياس ته مو هم لاربښوونه کړې وه، هغوی ټول د الله تعالی نيک او صالح بندګان وو.

وَإِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾

او اسماعيل، اليسع، يونس او لوط( ته مو هم نيکه لاره ښودلې وه) او د دوی (هر يو) مو د خپل خپل عصر) په انسانانو غوره ګڼلی وو.

وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ
مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾

او د هغوی له پلرونو، زامنو او ورونو څخه مو زيات شمير( د خپل رسالت لپاره) غوره کړی او د هدايت په مستقيمه لاره روان کړی وو.

ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ
عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾

دا د الله توفيق او هدايت دی، له خپلو بندګانو څخه چې هر چاته وغواړی ورته يې په برخه کوی( خو که فرضاً دغه غوره کړی شوی نيک انسانان د خپل لوړ مقام او حيثيت په خلاف) له الله تعالی سره د شرک مرتکب شوی وی،نو په يقين سره چې ټول نيک اعمال( او عبادات او طاعتونه) به يې ضايع او په سيند لاهو شوی وی.

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ
فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا۟ بِهَا بِكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾

دا هغه کسان دی چې مونږ ورته کتاب او حکمت( علم او شريعت) او د نبوت لوړ مقام ورکړی ، نو که دا ( د مکې مشرکان او ستا معاصر کافران) له قرآن څخه منکر شی( په اسلامی نهضت باندې هيڅ ناوړه اغيزه نه لری ځکه د مهاجرينو او انصارو په نوم ) مونږ نور داسې خلک ټاکلی چې له اسلامی دعوت نه هيڅکله مخ نه اړوی بلکه ( د سر او مال په قربانۍ د اسلام د اعتلا او حاکميت لپاره جهاد کوی.)

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقۡتَدِهۡۗ قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ
عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰلَمِينَ ٩٠

( د انبیاو) دغه جماعت ته، الله تعالی هدایت کړی او حق ته د رسیدو توفیق يې ورپه برخه کړی او( ای پیغمبره) ته هم په هغوی پسې اقتدا وکړه( او د هغوی په پیروۍ، خپلو امتیانو ته) ووایه چې زه (د الهی رسالت او فرمان په تبلیغ کې) ستاسو نه کوم بدل او اجوره نه غواړم بلکه دا( قرآن) د ټول بشریت لپاره پند او نصیحت دی.

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓ إِذۡ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٖ مِّن شَيۡءٖۗ قُلۡ مَنۡ
أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِي جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورٗا وَهُدٗى لِّلنَّاسِۖ تَجۡعَلُونَهُۥ
قَرَاطِيسَ تُبۡدُونَهَا وَتُخۡفُونَ كَثِيرٗاۖ وَعُلِّمۡتُم مَّا لَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنتُمۡ وَلَآ ءَابَآؤُكُمۡۖ
قُلِ ٱللَّهُۖ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ فِي خَوۡضِهِمۡ يَلۡعَبُونَ ٩١

او( کافرانو) لکه څنګه چې لازمه وه، د الله تعالی( او د هغه د رحمت او حکمت) قدر او ستاینه و نه کړه څکه خو وایی چې الله تعالی هیچا ته وحې نه ده نازله کړې( او نه يې څوک په پیغمبرۍ مبعوث کړی دی.( ای پیغمبره! یهودیانو ته) ووایه چې په موسی باندې هغه کتاب چا نازل کړی چې د خلکو لپاره نور( او د حقایقو روښانه کوونکی) او سر تر پایه هدایت دی. همدا تاسو( یهودیان) واست چې دغه کتاب مو ټوټې-ټوټې او پاڼې-پاڼې کړ، څه برخه خلکو ته ښکاره کوۍ( چې ستاسو له ارزوګانو او هوسونو سره برابره ده) او زیاته برخه پټوۍ ( چې د قرآن او د محمد علیه السلام د نبوت د حقانیت ګواهی ورکوی، په داسې حال کې چې په تورات کې) درته هغه حقایق هم روښانه شوی چې نه تاسو ته معلوم وو، او نه مو پلرونو نیکونو ته.( ای پیغمبره) ورته ووایه: (دغه کتاب موسی ته) الله تعالی نازل کړی و. بیا نو دوی پرېږده چې په خپلو باطلو ویناو او خرافاتو کی نورې مزې چرچې هم وکړی.

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ
وَمَنۡ حَوۡلَهَاۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَهُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ
يُحَافِظُونَ ٩٢

او دا زمونږ له خوا نازل شوی کتاب( قرآن) له خیر او برکت نه ډک کتاب دی چې د تیرو آسمانی کتابونو تصدیق کوونکی دی ترڅو د نړۍ د جغرافیایی مرکز( مکې معظمې) او شاوخوا سیمې( او ټولې نړۍ) خلکو ته وربانديې خبرداری ورکړې.او څوک چې آخرت منی، هغوی په قرآن هم ایمان راوړی او خپل لمونځونه په مواظبت او پابندۍ سره اداء کوی.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِىَ إِلَىَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَىْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ۖ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٩٣﴾

له هغه نه لوی ظالم ، بل څوک دی( بلکه بل ظالم ترې نشته) چې په الله تعالی باندې د دروغو بهتان تړی، یا وایی ماته وحی کیږی، سره له دې چې هیڅ وحې ورته نه ده شوې، یا دا چې وایی: زه هم د الله د کتاب په شان، کتاب راوړی شم.( ای مخاطبه) کاش تا د دغو ظالمانو د ځنکدن د صحنې( باطنی او روحانی سختۍ) لیدلی شوی چې پرښتې ورته لاس ورغځوی( او په زوره بوږنووکې چیغه) ورته وایی:راوباسۍ ساګانې مو. نن به د هغو دروغو په بدل کې چې الله تعالی ته مو منسوبول او د الهی آیتونو په مقابل کې مو تکبر کاوه،سپکوونکی عذاب ووینۍ.

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾

( او نوې نړۍ ته د ورتګ په لومړی قدم کې به ورته خطاب وشی :نن)تاسو زما په حضور کې، ایکی یوازې او په هماغه حال ولاړ یاست، لکه څنګه چې مې لومړی ځل پیدا کړی وۍ. او څه چې مې په دنیا کې درکړی وو، درنه پاتې او له لاسه مو وتلی دی، او هغه سفارش کوونکی مو هم نن درسره نه وینم( چې له ما سره مو په ربوبیت کې) شریک ګڼل. یقیناً چې نن ستاسو او هغوی ترمنځ ټولې اړیکې شکیدلی او ټول هغه شیان در څخه ترې تم شوی( چې په دې ورځ مو ترې د مرستې هیله درلوده).

۞ إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ ٱلْحَىِّ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٩٥﴾

بیشکه چې الله تعالی دانې او زړی سوری کوی( او نباتات او ونې ترې راباسی) او هغه ذات دی چې ژوندی له مړی او مړی له ژوندی( انسان له نطفې او نطفه له انسانه) پیدا کوی، همدا دی ستاسو رب الله تعالی. نو له دغو دلایلو له اوریدو وروسته، ولې له حق نه مخ اړوئ؟

فَالِقُ ٱلْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾

( الله تعالی هغه ذات دی) چې روڼ سهار د شپې له تورې تیارې پردې نه راباسی( تر څو پکې تاسو د ژوند ژواک لپاره هلې ځلې وکړئ) او شپه یې د آرام او سکون لپاره درته غوره کړه، او لمر او سپوږمۍ یې( د خلکو د ورځنی ژوندانه د چارو او عبادت) د وخت د اندازې او محاسبې لپاره وټاکل. همدغه دی د پوه، پیاوړی او مدبر ذات( الله تعالی) د حساب کتاب سیستم( چې په ټوله نړۍ باندې حاکم او نافذ دی).

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهْتَدُوا۟ بِهَا فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٩٧﴾

او( الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې ستوری پیدا کړل، چې د هغو په وسیله د بیدیا او سمندر په تاریکیو کې خپله لار وپیژنئ. بیشکه مونږ خپل آیتونه( او عقلی دلایل) هغو خلکو ته بیانوو چې پوهه ورسره وی.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾

او الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې له یوه نفس څخه پیدا کړئ، بیا یې د امانت او تکامل( په یوه ځانګړی سیستم کې لومړی د مور په رحم او بیا دنیا او وروسته په عالم برزخ کې وساتلی او آخرت یعنی جنت او دوزخ) یې درته د وروستی قرارګاه په حیث مقرر کړ.په دې توګه مونږ د پوهې خاوندانو ته خپل آیاتونه بیانوو.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ
فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ ٱلنَّخْلِ
مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ
مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۗ ٱنظُرُوٓا۟ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى
ذَٰلِكُمْ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾

او(الله تعالی)هغه ذات دی چې له آسمانه اوبه راوروی او په هغو باندې( له ځمکې نه) ډول ډول نباتات او بوټی راشنه کوو او بیا له شنو بوټو نه د ګڼو دانو وړی راوباسو او د خرما له څانګو نه د میوو ډک رازوړند وړی رازیږوو او د انګورو، زیتونو او انارو باغونه مو جوړ کړی چې په رنګ او خوند کې، څه سره یوشان او څه سره جلا جلا دی. تاسو ښه ځیر شئ چې څنګه ونې او بوټی اومه میوه ونیسی او بیا پخه شی.( د میوو په دی داخلی او خارجی تغیراتو کې) د مؤمنانو او حق منونکو لپاره ( د الله تعالی د توحید او قدرت) پوره دلایل او شواهد پراته دی.

وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ ۖ وَخَرَقُوا۟ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ
سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾

او ( د دې ټولو دلایلو سره سره بیا هم کافران) له الله تعالی سره پیریان( او شیطانان)په ربوبیت کی شریکان ګڼی، په داسې حال کې چې (پیریان او شیطانان) د الله تعالی مخلوق دی( نه د ربوبیت شریکان). دغه راز، (کافران د ناپوهی له مخې) د الله تعالی ذات ته ځامن او لوڼه منسوبوی( مسیحیان وایی عیسی د خدای زوی دی او یهودیان وایی عزیر یې زوی دی، او ځینې عرب مشرکین بیا وایی چې پرښتې د الله لورګانې دی)حال دا چې الله تعالی د دوی له دغو( ناروا توصیفاتو او انګیرنو نه کاملاً) پاک او اعلی مرتبت ذات دی.

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٌ ۖ
وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٠١﴾

(الله تعالی هغه ذات دی چې) آسمانونه او ځمکه یې( بې له کومې پخوانی نمونې له نیست نه) هست او ایجاد کړل. څنګه ممکنه ده چې هغه ځوی ولری حال دا چې ښځه یې نشته، او د ټولو موجوداتو او مخلوقاتو خالق

(او د هر چا په  اقوالو او اعمالو) ښه پوه او خبر دی( او هیڅوک به ترې  بې مکافاتو او بې مجازاتو پاتې نشی).

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيْءٍ
فَٱعْبُدُوهُ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٠٢﴾

همدغه دی د الله تعالی ذات ستاسو حقیقی رب. له هغه نه غیر د عبادت او پرستش بله مرجع نشته. هغه د هر شی مؤجد او خالق دی.نو تاسو یوازې د هغه عبادت وکړئ او  هغه د هرشی ساتونکی او څارونکی دی.

لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَٰرَ ۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ
ٱلْخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾

سترګې د هغه د ذات  له  لیدلو عاجزې او( لیدی  یې نشی) خو هغه د هر چا سترګې وینی( او په رموز یې پوهیږی) ځکه چې هغه ډیر باریک بین او له هر څه با خبره ذات دی.

قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَا ۚ
وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾

( ای پیغمبره خلکو ته ووایه په قرآن کې) تاسو ته، ستاسو د رب له لوری ښکاره او روښانه دلایل راغلی نو څوک چې  دغه دلایل او حقایق د زړه په سترګو ووینی، د ځان په ګټه یې ده او څوک چې ځان قصداً ړوند واچوی ( په حقایقو سترګې پټې او دلایل رد  کړی) زیان یې هم خپل دی. زه ستاسو په اعمالو پیره دار او ساتونکی نه یم( بلکه وظیفه مې تاسو ته د الهی پیغام رسول دی).

وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ
يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾

او په دې توګه مونږ خپل آیتونه( د مستندو دلایلو او بیلابیلو مثالونو په وړاندې کولو سره) بیانوو، (چې په اوریدو سره به یې ناپوهان او لجوجان) ووایی چې ده درس لوستی ځکه( یو امی او نالوستی سړی دا ډول علمی او تاریخی مضامین بیانولی نشی) او پوهانو او د عقل خاوندانو ته به واقعیت نور هم روښانه شی.

ٱتَّبِعۡ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٦﴾

( ای پیغمبره!) ته د هغې وحې پیروی وکړه چې ستا رب یې تاته نازلوی. له هغه نه غیر بل خدای نشته، او مشرکانو ته هیڅ اعتنا مه کوه (او مخالفت او دښمنی ته یې ارزښت مه ورکوه).

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكُواْۗ وَمَا جَعَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗاۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ﴿١٠٧﴾

که الله تعالی وغواړی هغوی به (جبراً) له شرک نه راوګرځوی( خو د عقیدې په غوره کولو کې، انسان ته اختیار او آزادی ورکړې شوې) او ته زمونږ له لوری، په هغوی باندې څارونکی او مراقب نه یې ټاکل شوی( او نه درته امر شوی چې هغوی په زور اوجبر اسلام ته راوګرځوې).

وَلَا تَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدۡوَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرۡجِعُهُمۡ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٠٨﴾

او هغو باطلو خدایانو او بتانو ته چې کافران یې د الله تعالی په مقابل کې پرستش کوی ، کنځاوې مه کوئ، هسې نه چې کافران هم د ظلم او کینې له کبله په ناپوهی کې، الله تعالی ته بد رد ووایی. په دې توګه مونږ هرې ډلې ته د هغوی اعمال دومره ښکلی ځلولی( چې هر یو ځان په حقه ګڼی) خو بیا چې د خپل رب حضور ته راشی، د خپلو کړنو په نتیجه او څرنګوالی به خبر شی.

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ لَّيُؤۡمِنُنَّ بِهَاۚ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَا يُشۡعِرُكُمۡ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٩﴾

او کافران په الله تعالی سوګندونه یادوی چې که د دوی د خوښې معجزه ورته راشی نو ایمان به راوړی.( ای پیغمبره!) ورته ووایه چې معجزې له الله تعالی سره دی( که اراده وکړی نازلې به یې کړی). او( ای مؤمنانو!) تاسو څه پوهیږئ که دغه معجزې دوی ته راشی بیا هم ایمان نه راوړی.

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ
فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾

**او مونږ د دوی زړونه او سترګي( چې د پوهې او بصيرت وسيلې دی) داسې په بل مخ اړولی او په سرکشۍ کې مو آزاد پرې ايښی( چې نه حق منی، نه حق اوری او نه ايمان راوړی) لکه پخوا يې چې په نورو معجزو هم ايمان نه و راوړی.**

۞ وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ
شَىْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ
يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾

**او که مونږ( د مکې د مشرکو سردارانو په غوښتنه) دوی ته پرښتې راښکته کړو او مړی ورسره خبرې وکړی او ټول پخوانی مخلوقات ورته راژوندی او را مخامخ کړو( چې د قرآن او پيغمبر په حقانيت ورته ګواهی ورکړی) بيا به هم دوی( پخپله خوښه او اراده) ايمان رانه وړی، مګر دا چې الله تعالی يې ورباندې( په جبری توګه ومنی ) خو زياتره کسان (په دغو حقايقو) ځان نه پوهوی.**

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِى
بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ
فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾

**او( لکه څنګه چې ستا د عصر کافران ستا سره دښمنی کوی) په همدې توګه مونږ د هر پيغمبر لپاره ځينی( باغی) انسانان او( سرکشه) جنيات، د ښمنان ګرځولی چې د خلکو د تيرويستلو لپاره به يې خوندورې خو باطلې او بې اساسه خبرې يو بل ته رسولې او که ستا رب غوښتی وی دغه کار يې نشو کولی، نو پريږده چې پخپلو دروغو او افتراآتو کې مصروف وی( تبليغ يې په تا دی او وروستی حساب کتاب يې په مونږ.)**

وَلِتَصۡغَىٰٓ إِلَيۡهِ أَفۡـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَلِيَرۡضَوۡهُ

وَلِيَقۡتَرِفُواْ مَا هُم مُّقۡتَرِفُونَ ١١٣

(د شیطان د وسوسو او شیطان صفتو انسانانو د ناوړو او زهرجنو تبلیغاتو په نتیجه کې به ) له آخرت نه د منکرو کسانو زړونه لا نور هم (مزخرفاتو ته) متمایل او خوشاله شی او بیا به هرې ګناه او فساد ته په جرأت سره لاس اچوی.

أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡتَغِي حَكَمٗا وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ

مُفَصَّلٗاۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٞ مِّن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّۖ

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١١٤

( ای پیغمبره ورته ووایه): آیا د الله تعالی نه غیر، د بل قاضی او فیصله کوونکی په لټه کې یاست، په داسې حال کې چې همدا د الله تعالی ذات دی چې تاسو ته یې کتاب( قرآن) نازل کړی( چې حلال او حرام، حق او باطل او هدایت او ګمراهی پکې په تفصیل سره بیان شوی دی). او هغه کسان چې پخوا ورته کتاب ورکړی شوی ډیر ښه پوهیږی چې دا قرآن په حقه ستا د رب له لوری نازل شوی( او پخوانیو آسمانی کتابونو د هغه بشارت ورکړی نو ای مخاطبینو) تاسو یې هم باید(په حقانیت کې) شک او تردید و نه لرئ.

وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ

ٱلۡعَلِيمُ ١١٥

ستا د رب وینا په صداقت او عدالت کی کاملاً پوره ده. هیڅوک د هغه فرمانونه بدلولی نشی (او نه یې د تطبیق مخه نیولی شی). الله تعالی (د هر چا د خبرو) اوریدونکی او( په اعمالو یې) ښه خبر دی.

وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن

يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ١١٦

( ای پیغمبره!) که ته د ځمکې د اکثریت خلکو( کافرانو او منافقانو) د ارزوګانو پیروی وکړې، نو دوی به دې د الله تعالی له لارې منحرف کړی، ځکه هغوی صرف د ګومانونو او اټکلونو تابع دی او( هیڅ علمی او منطقی بنسټ نه لری او په الله تعالی باندې) له دروغو تړلو نه غیر یې بل کار نشته.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ
بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾

**بیشکه چې ستا رب د گمراهانو په حال ډیر ښه خبر دی او هغه کسان هم ښه پیژني چې د هدایت په لاره روان دی.**

فَكُلُوا۟ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾

**نو که مو په الهی آیتونو( او احکامو او د محمد صلی الله علیه و سلم په رسالت) ایمان راوړی وی(د هغو څارویو غوښې) وخورئ چې( د ذبحې په وخت کې) وربانديې د الله تعالی نوم یاد شوی وی( او په تحلیل او تحریم کې باید یوازې د الله تعالی فرمان ومنئ، نه د مشرکانو).**

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا
حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ
عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾

**او تاسو ولې د هغه ( څاروی غوښه ) نه خورئ چې د ذبحې په وخت کې وربانديې د الله تعالی نوم یاد شوی،( یعنې په خوړلو کی یې هیڅ خنډ او مانع نشته) په داسې حال کې چې الله تعالی تاسو ته د هغو څارویو غوښې چې په تاسو حرامې دي( د دې سورت په ۱۴۵م او د مائدې په ۳ م آیت کې) تشریح کړې چې باید ویې نه خورئ، خو د لوږې په اضطراری حالت کې(ترې د هلاکت د مخنیوی لپاره لږه شان خوړلی شئ) زیاتره کسان( چې په تحلیل او تحریم عقیده نه لری) د جهل او نفسانی خواهشاتو له مخې خلک گمراه کوی او( ورته وایی چې د مردار شوی څاروی غوښه هم حلاله ده ځکه چې الله تعالی وژلی دی)او بیشکه چې ستا رب( دغه) له حدودو سرغړوونکی ډیر ښه پیژني.**

وَذَرُوا۟ ظَٰهِرَ ٱلْإِثْمِ وَبَاطِنَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْسِبُونَ ٱلْإِثْمَ
سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا۟ يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾

**گناه که ښکاره( او جسمانی لکه غلا، زنا، قتل، کنځاوی او وهل ټکول) وی او که پټه( قلبی او باطنی لکه کینه،مکر، منافقت او بدگومانی) وی خو ځان ترې وساتئ، ځکه په گناهونو روږدو کسانو ته به ډیر زر( مناسبه) سزا ورکړی شي .**

وَلَا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ
ٱلشَّيَـٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَـٰدِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ
إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾

**د هغه حیوان غوښه مه خورئ( چې د حلالې په وخت کې وربانديږ) د الله پاک نوم نه وی یاد شوی( او یا د بل چا په نوم ذبح شوی وی) ځکه د دغه ډول غوښې خوراک( د الله تعالی له قانون څخه) سر غړونه او بغاوت ګڼل کیږی. بیشکه چې شیطانان( او شیطان صفته کسان) خپلو دوستانو ته د الهی احکامو په ضد وسوسې وراچوی( ترڅو ستاسو سره د حلالو او حرامو په باب) جنجالی بحثونه وکړی، او که تاسو د دغو کسانو پیروی وکړئ نو د مشرکانو په ډله کې به وشمیرل شئ.**

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَـٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ
كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَـٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَـٰفِرِينَ
مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾

**آیا څوک (چې له عقلی او روحی لحاظه) مړ و، او مونږ( د هدایت او ایمان په وسیله) ژوندی کړی وی او یو نور مو ورته په برخه کړی وی چې د هغه په رڼا کې د خلکو په منځ کې ګرځی راګرځی، د هغه چا په شان دی چې ( د جهل او ګمراهئ) په تررمیو کې( لاس پښې وهی او) د وتلو لار نه مومی . په دې توګه مونږ کافرانو ته د دوی ناوړه کړه وړه ښکلی وځلول( چې فکر کوی ټول کارونه یې نیک او په حقه دی).**

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَـٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟
فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

**او (لکه څنګه چې یې په مکه کې وینې) همدا شان مونږ په هر ښار او آبادئ کې ورانکاری او مفسد سردمداران او مشران خپل سرئ ته پرې ایښی چې( هلته خلک) د ټګیو او چلوټو په لومو کې ونښلوی خو بی له دې چې په ځان وپوهیږی بیرته په همدغو لومو کې پخپله نښلی.**

وَإِذَا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ قَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ حَتَّىٰ نُؤۡتَىٰ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ
ٱللَّهِۘ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ
صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا كَانُواْ يَمۡكُرُونَ ١٢٤

او کله چې ( د دوی د هدایت لپاره) ورته دلیل او معجزه راشی وایی: تر هغه به ایمان رانه وړو تر څو د پیغمبرانو په شان مقام او امتیاز رانه کړی شی. خو الله تعالی په دې ښه پوهیږی چې د رسالت او پیغمبرۍ مقام چاته ورکړی. زر ده چې مجرمین به د الهی محکمې له لوری، د دسیسو جوړولو په جرم، د ذلت او شدید عذاب په سزا محکوم شی.

فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن
يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ
كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢٥

الله تعالی چې چاته د هدایت اراده وکړی، سینه یې د اسلام د شرفیابۍ لپاره پراخه کړی او چاته چې( د هغه د لجاجت له امله) د گمراه کیدو اراده وکړی(حق منلو او ایمان راوړلو ته یې) سینه دومره سخته تنگه شی چې گومان کوی د آسمان په لور پورته خیژی او په همدې توگه الله تعالی خپل عذاب په هغو خلکو نازلوی چې ایمان نه راوړی.

وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسۡتَقِيمٗاۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ١٢٦

او دا (اسلام) ستا د رب مستقیمه لار ده. مونږ خپل آیتونه( او عقلانی دلایل) هغه چاته بیانوو چې( ایمان قبلوونکی زړه او حق اوریدونکی غوږونه لری او) پند او عبرت اخلی.

۞ لَهُمۡ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمۡۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢٧

د دغو( پند اخستونکو) کسانو لپاره یې د رب له حضوره دارالسلام( جنت) لیکل شوی او د نیکو اعمالو په بدل کې یې،پخپله الله تعالی کار جوړوونکی او مرستندوی دی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِ ۖ
وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَآ
أَجَلَنَا ٱلَّذِىٓ أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ
إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾

او هغه ورځ (راياده کړه) چې ټول(انسی او جنی شيطانان) سره رايوځای کړو( او ورته ووايو): ای د پيريانو جماعته( ای جنی شيطانانو!) تاسو خو ډير( بدبخت) انسانان د ځان تابع( او له حق نه منحرف کړی دی). په انسانانو کې د دوی دوستان( شياطين الانس) به ووايي: ای زمونږ ربه! مونږ ټولو( د قيامت ) تر نيټې پورې چې تا راته ليکلې وه، له يو بل څخه ښه پوره ګټه پورته کړې (او اوس ستا په حضور کې ولاړ يو).الله تعالی به وفرمايي: د ټولو هستوګنځی د دوزخ اور دی چې تل تر تله به پکې پراته ياست، خو کله چې الله تعالی اراده وکړی( نو تاسو به په جهنم کې له يوې طبقې نه بلې ته انتقال کړی) .بيشکه چې الله تعالی د حکمت څښتن او( د مجرمينو له جرايمو څخه) خبردار ذات دی( او هريوه ته به د هغه د جرم سره سمه سزا ورکړی) .

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّى بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾

او( لکه څنګه چې مو انسی او جنی کفار په دنيا کې يو په بل مسلط کړی، په دوزخ کې به هم) ځينې ظالمان په ځينو نورو، د دوی د ناوړو کړو وړو له امله مسلط کړو .

يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ
ءَايَٰتِى وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا۟ شَهِدْنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَا ۖ
وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟
كَٰفِرِينَ ﴿١٣٠﴾

(او بيا به ورته د الله تعالی له لوری خطاب وشی) ای د جن او انس پرګنو! آيا تاسو ته ستاسو له ډلې پيغمبران نه وو درغلی چې زما آيتونه به يې تاسو ته لوستل او د نن ورځې له ملاقات نه به يې ويرولی؟ هغوی به ووايي: مونږ په خپلو ځانونو ګواهی ورکوو( چې پيغمبران راغلی او مونږ دروغ ګڼلی دی). دوی د دنيوی ژوندانه ځلا او پړکا تيرويستلی وو او دا دی اوس پخپله پخپل کفر ګواهی ورکوی.

ذَٰلِكَ أَن لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا غَٰفِلُونَ ﴿١٣١﴾

( د پيغمبرانو استول دا حقيقت ثابتوی) چې ستا رب د ښارونو او آباديو خلک(بې له وړاندينۍ اخطار او تنبيه څخه) په ناخبرۍ کې، او په ظلم سره نه تباه کوی.

وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٢﴾

او هر چاته د هغه (د نيکو او بدو) اعمالو په تناسب مرتبه ورکول کيږی،او ستا رب هيڅکله د خلکو له کړو وړو بې خبره نه دی.

وَرَبُّكَ ٱلْغَنِىُّ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنۢ بَعْدِكُم مَّا يَشَآءُ كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾

او ستا رب (له هر چا او د هر چا له عبادت نه) بې نيازه دی او رحمت يې د ټولو لپاره عام دی( ځکه خو عذاب فوری نه نازلوی) که وغواړی تاسو به د هستۍ له صفحې ليرې او په ځای به مو د خپلې خوښې نور خلک راولی، لکه څنګه چې يې تاسو د پخوانيو له نسله پيدا کړی (او د هغوی په ځای يې کښينولی ياست).

إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَءَاتٍ ۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾

له تاسو سره د( قيامت د حساب کتاب او مکافات او مجازات او بيلابيلو درجاتو) وعده حقه او مسلمه وعده ده او تاسو يې مخه نشۍ نيولی.

قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ۗ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿١٣٥﴾

ووايه: ای قومه څومره چې مو په وسه پوره وی( خپلې دښمنۍ او کفر ته دوام ورکړی) او زه به هم( خپل ايمان او ثبات) ټينګ وساتم. بالاخره به تاسو پوه شۍ چې نيک عاقبت او( دنيوی او اخروی نيکمرغی) د چا په برخه ده، مسلم حقيقت دا دی چې ظالمان هيڅکله هم بريمن او نيکمرغه کيدی نشی.

وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلْحَرْثِ وَٱلْأَنْعَـٰمِ نَصِيبًا
فَقَالُوا۟ هَـٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَـٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۖ فَمَا كَانَ
لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ
يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمْ ۗ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿١٣٦﴾

او( د مشرکانو د اعتقادی او عملی ظلمونو څخه یو دا دی چې) د خپلو هغو زراعتی فصلونو او څارویو څخه چې الله تعالی پیدا کړی، یوه برخه يې د الله تعالی لپاره ټاکلې او پخپل بې اساسه ګومان وایی چې دا د الله تعالی برخه شوه( چې مونږ يې بې وزلو او میلمنو ته ورکوو)او دا بله مو د خپلو بتانو لپاره ده(چې د بتانو متولیانو او خدمتګارانو ته ځانګړې ده.) او (عقیده يې داده چې) د بتانو برخه الله تعالی ته نه رسيږی خو د الله تعالی برخه بتانو ته رسیدلی شی( او په دې توګه د الله برخه هم پخپلو بتخانو کی مصرفوی. یقیناً چې) ډیر بد قضاوت دی.

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ
قَتْلَ أَوْلَـٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا۟
عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا
يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾

او همدا شان( د زیاترو مشرکانو د انتهایی جهالت او ظلم یوه بله نمونه دا وه چې) شیطانانو ورته د اولادونو وژل،( د ابراهیمی سنت په حیث)غوره او نیک عمل معرفی کړی و، تر څو يې په دغه عمل سره هلاک او په دین کې له شکونو او وسوسو سره مخ کړی. که الله تعالی غوښتلی نو( جبراً) به يې له دغه کاره منع کړی وی،خو پریږده چې پخپلو دروغو او افتراآتو کی همداسې سرګردانه وی( ځکه له سخت عذاب او عتاب سره مخامخ کیدونکی دی).

وَقَالُواْ هَٰذِهِۦٓ أَنۡعَٰمٞ وَحَرۡثٌ حِجۡرٞ لَّا يَطۡعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ
بِزَعۡمِهِمۡ وَأَنۡعَٰمٌ حُرِّمَتۡ ظُهُورُهَا وَأَنۡعَٰمٞ لَّا يَذۡكُرُونَ ٱسۡمَ ٱللَّهِ
عَلَيۡهَا ٱفۡتِرَآءً عَلَيۡهِۚ سَيَجۡزِيهِم بِمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ١٣٨

او دا هم وایی چې د فصلونو او څارویو، یوه برخه ممنوع ده او بې زمونږ له اجازې یې څوک خوړلی نشی، دغه د دوی خود ساخته عقیده ده (چې هیڅ الهی حکم پکی نشته) او هم وایی چې په دې نورو یو شمیر څارویو بیا سپرلی او بار وړل حرام دی، او داسې څاروی یې هم جلا کړی چې د حلالې په وخت کې وربانديې د الله پاک نوم نه یادوی( او بدتره یې لا داچې دغه ټول کاذبانه قوانین او مقررات) الله تعالی ته منسوبوی. زر ده چې د دغو دروغو او تومتونو په جرم کی به ورته سخته سزا ورکړی شی.

وَقَالُواْ مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ خَالِصَةٞ لِّذُكُورِنَا
وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِنَاۖ وَإِن يَكُن مَّيۡتَةٗ فَهُمۡ فِيهِ شُرَكَآءُۚ
سَيَجۡزِيهِمۡ وَصۡفَهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ١٣٩

او( بل قبیح او خرافی حکم یې دا دی چې) وایی: هغه بچی چې د دغو څارویو په نسونو کې دی( که ژوندی وزیږی) نو خوراک یې زمونږ د نارینه و لپاره حلال، او ښځمنو ته مو حرام دی، او که مړه وزیږی نو بیا یې په خوراک کې( ښځې او نارینه) دواړه برخه اخستی شی. زر ده چې الله تعالی به د دغو باطلو توصیفاتو او خود ساخته مقرراتو سزا هم دوی ته ورکړی ځکه چې الله تعالی حکیم او(په هرڅه) پوه او باخبره ذات دی.

قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ أَوۡلَٰدَهُمۡ سَفَهَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَحَرَّمُواْ مَا
رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفۡتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِۚ قَدۡ ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ
مُهۡتَدِينَ ١٤٠

بیشکه هغه کسان په سخت زیان کی دی چې خپل اولادونه یې د جهالت او ناپوهی په جذباتو کی ووژل،او په الله تعالی باندې یې د دروغو او افترآآتو په تړلو سره د هغه حلاله ورکړې روزی په ځان حرامه کړې ده. په یقین سره چې دوی گمراهان دی او د هدایت په لاره نه دی تللی.

۞ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ جَنَّٰتٖ مَّعۡرُوشَٰتٖ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٖ
وَٱلنَّخۡلَ وَٱلزَّرۡعَ مُخۡتَلِفًا أُكُلُهُۥ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ
مُتَشَٰبِهٗا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٖۚ كُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَءَاتُواْ
حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦۖ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ
ٱلۡمُسۡرِفِينَ ١٤١

الله تعالی هغه ذات دی چې په چیلو او څپرو خیژول شوی( د انګورو) او هم بې څپرو او په خپلو تنو د ولاړو میوو او کښتونو باغونه، د خرما ونې او د ډول ډول محصولاتو کښتونه یې پیدا کړی دی. دغه راز یې د زیتون او انارو ونې پیدا کړی چې (ونې او پاڼې) یې په رنګ کې سره ورته خو( میوې) یې په خوند کې سره جلا جلا دی. د دغو ټولو بوټو میوې او پیداوار وخورئ او د حاصلاتو د اخستلو په وخت کې ترې د الله تعالی حق( مسکینانو او بې وزلو ته) ورکړئ او په( خوراک او خیرات کې) اسراف او زیاتی مه کوئ، ځکه الله تعالی له حده تیری کوونکی نه خوښوی.

وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ حَمُولَةٗ وَفَرۡشٗاۚ كُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا
تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ١٤٢

او الله تعالی هغه ذات دی چې ځینې څاروی یې غټ او تنه ور، پیدا کړی چې د سپرلۍ او بار وړلو لپاره پکارېږی او ځینې نور یې د خوړلو او فرشونو جوړولو لپاره پیدا کړی دی. دا ستاسو لپاره د الله تعالی روزی ده چې باید ویې خورئ( او ګټه ترې واخلئ او د تحلیل او تحریم په باب یې) د شیطان په پل پسې مه ځئ( او خود ساخته فتواوی یې مه منئ) ځکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۖ مِّنَ ٱلضَّأۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ
ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ
ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٤٣

**(الله تعالی له اوښانو،غواګانو،وزو او پسونو نه) اته جوړې پیدا کړی. دوه د میږو او دوه د وزو له نسله. ( ای پیغمبره! له هغو کسانو نه چې د څارویو د تحلیل او تحریم په باب خودساخته فتواوې ورکوی) پوښتنه وکړه چې آیا الله تعالی د دغو څارویو نران حرام کړی که ښځینه؟ او که هغه یې حرام کړی چې لا تراوسه د ښځینه څارویو په نسونو کی دی؟ که رښتینی یاست نو علمی او منطقی ځواب راکړی.**

وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٤﴾

**او دغه راز یې دوه د اوښانو له نسله او دوه د غوایانو له نسله پیدا کړل.( ای پیغمبره!) له هغوی نه پوښتنه وکړه چې آیا (الله تعالی) د دغو څارویو نران حرام کړی که ښځینه او که هغه چې لا د اوښې او غوا په نسونو کی دی؟ آیا تاسو هغه وخت حاضر واست چې الله تعالی د دغو څارویو د حراموالی حکم صادراوه، نو له هغه نه بل لوی ظالم، څوک دی( بلکه نشته) چې په الله تعالی باندې په دروغو تومت تړی او بې دلیله او بې حجته، د خلکو د بې لارې کیدو هلې ځلې کوی. بیشکه چې الله پاک ظالمانو ته نیکه لار نه وربنایی.**

قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٖ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٤٥﴾

**ورته وواېه: په هغو احکامو کې چې ماته وحی شوی،( له څلورو ډولو نه غیر بل) داسې شی نه مومم چې په خوړونکو دې حرام وی: مرداره غوښه،( د حیوان له رګونوبهیدونکی) وینه، د خنزیر غوښه چې ناپاکه ده او خوراک یې فسق( او مضر) دی، او د هغه څاروی غوښه چې د حلالې په وخت کې وربانديې، له الله تعالی نه**

غیر د بل چا نوم اخستل شوی وی، خو که څوک د (قحطی یا) اضطراری اړتیا له مخې( له دغو محرماتو نه لږه شان وخوری) او هدف یې بغاوت او عیاشی نه وی( نو ګناه وربانديې نشته) بیشکه چې ستا رب ډیر ښښونکی او  زیات رحم کوونکی ذات دی.

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِى ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ
وَٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ
ٱلْحَوَايَآ أَوْ مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْ ۖ وَإِنَّا
لَصَٰدِقُونَ ١٤٦

( یعنی اصلی حرمت په همدغو شیانو کی دی  خو د موقتی مصالحو له امله، ځینې شیان په عارضی ډول په ځینو قومونو  حرام کړی شوی وو،لکه)په یهودیانو مو نوکان لرونکی حیوانات(لکه اوښ، شترمرغ، مرغاویَ او ځینې نور چې نوکان یې له منځه نه وی جلا شوی) حرام کړی وو، او د غوایانو او پسونو هغه وازدې چې په شا یا کولمو یې لګیدلی نه وی او یا له هډوکو سره متصل او نښتی نه وی هم وربانديې حرامې دی(لکه د پښتورګی وازده) . دغه تحریمات د هغوی د ظلمونو او شرارتونو سزا ده او مونږ( په خپلو احکامو کې) رښتینی یو.

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ
عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ١٤٧

که تا( ستا دعوت او نبوت) دروغ وګڼی، ورته ووایه: ستاسو رب د پراخ او هر اړخیز رحمت لرونکی ذات دی( چې سمدلاسه  سزا، نه درکوی) او له مجرمانو څخه د الهی عذاب مخه، هیڅوک نشی نیولی.

سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا
حَرَّمْنَا مِن شَىْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُوا۟
بَأْسَنَا ۗ قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَآ ۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا
ٱلظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ١٤٨

مشرکان به( د ځان خلاصولو لپاره عذرونه او پلمې جوړوی او) وایی به چې:( زمونږ شرک او د حلالو تحریم د الله له لوری اجباری دی او زمونږ اختیار پکې نشته) که د الله خوښه او اراده وی، نه به مونږ مشرکان شوی وو او نه به مو پلرونو او نیکونو د شرک لاره نیولې وه، او نه به مو( د الله تعالی حلال) کوم شی په ځان حرام کړې و. د دوی نه وړاندې تیرو قومونو( د همدې باطلې عقیدې په اساس، پیغمبران) دروغ وګڼل او بیا یې زمونږ له عذاب او انتقام نه ښه خوند واخست .( ای پیغمبره!) ورته ووایه: آیا ستاسو سره (د خپلو عقائدو د حقانیت لپاره کوم علمی او منطقی) دلیل شته چې راوړاندې یې کړئ؟ ( او بیشکه چې درسره نشته) صرف په پوچو او بې اساسه اټکلونو پسې روان یاست او له دروغجنانو نه غیر، درته بل خطاب نشی کیدی.

قُلْ فَلِلَّهِ ٱلْحُجَّةُ ٱلْبَٰلِغَةُ ۖ فَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

ورته ووایه: یوازینی قاطع دلیل او موثق حجت( چې د ایراد، شک او تردید امکان یې نشته) د الله تعالی لپاره ځانګړی دی او که وغواړی تاسو به ټول ( په جبری توګه) د هدایت په مستقیمه لار رهی کړی.

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ فَإِن
شَهِدُوا۟ فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟
بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمْ
يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾

( د خودسرانه تحریماتو مدعیانو ته) ووایه: راوړاندې کړئ هغه ګواهان چې وایی الله تعالی دغه شیان حرام کړی دی، خو ( ای پیغمبره!) که دوی شاهدی هم ورکړی، ته ورسره پکې برخه مه اخله( ځکه چې ګواهی یې دروغ او ناحقه ده) او د هغو کسانو د نفسانی خواهشاتو پیروی مه کوه چې زمونږ په آیتونو د دروغو ټاپې لګوی، په آخرت ایمان نه لری او د خپل حقیقی رب په مقابل کې( بتان) په خدایی نیسی.

۞ قُلْ تَعَالَوْا۟ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ۖ أَلَّا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ
شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا ۖ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَـٰدَكُم مِّنْ إِمْلَـٰقٍ ۖ
نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا
وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ
وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾

**(ای پیغمبره!) ورته ووایه: راشئ هغه څه درته بیان کړم چې ستاسو رب واقعاً په تاسو حرام کړی دی: د الله تعالی( له واحد او لاشریک ذات) سره بل څوک په خدایئ کې شریک مه ګڼئ، له مور او پلار سره مو ښېګڼه وکړئ، خپل اولادونه د فقر او تنګلاسئ( له ویرې) مه وژنئ ځکه مونږ ستاسو او ستاسو د اولاد د روزئ ذمه وار یو. او(کبیره ګناهونو، په تیره بیا )فحشا او بې حیایئ ته مه نږدې کیږئ، که( له خلکو نه) پټ وی که ښکاره. او انسان چې الله تعالی محترم ګڼلی( د قصاص د حق او الهی فرمان نه غیر) په ناحقه مه وژنئ. په دې توګه تاسو هڅوو چې ( د الهی احکامو د تطبیق لپاره) عاقلانه فکر وکړئ( او له پورتنیو څلورو نواهیو نه ځانونه وساتئ).**

وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۖ وَأَوْفُوا۟
ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَإِذَا
قُلْتُمْ فَٱعْدِلُوا۟ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۖ وَبِعَهْدِ ٱللَّهِ أَوْفُوا۟ ۚ ذَٰلِكُمْ
وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾

**او تر هغه چې یتیم د قوت( ځلمیتوب او خپلو چارو د سمبالښت عمر) ته نه وی رسیدلی، مال ته یې(د بې ځایه تصرف لپاره) مه نږدې کیږئ، البته( ولی او موصی یې کولی شی)په غوره او احسنه توګه( او د هغه د مال د ساتنې او تجارت لپاره پکی تصرف او کوشش وکړی).او په پیمانه او تله کې په پوره توګه انصاف مراعات( او د الهی احکامو په تطبیق کې تر وسه وسه خپل مسئولیتونه او مکلفیتونه اداء کړئ) مونږ په هیچا باندې د هغه له توان او طاقت نه زیات تکلیف او ذمه واری نه باروو، او کله چې( د کومې مسئلې په باب) خبرې کوئ (یا**

نظر او ګواهی ورکوئ) نو د انصاف او( بې طرفۍ) اصل په نظر کې ساتئ، که څه هم ستاسو د خپلوانو په زیان وی.او له الله پاک سره پخپلو وعدو او(نذرونو چې شرعی ممانعت و نه لری) وفا وکړئ. دا هغه نصایح او احکام دی چې تاسو ترې باید پند او عبرت واخلئ.

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ
بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٥٣

همدغه ده زما غوره کړې شوې لاره( زما حکیمانه قوانین او مقررات چې په دې سورة کې ذکر شول) تاسې یې باید پیروی وکړئ او په نورو اخوا دیخوا کږو لارو مه ځئ که نه، له الهی مستقیمې لارې به منحرف او تار په تار شئ. همدغه ده الهی توصیه چې تاسو باید له کږو لارو ځانونه وساتئ .

ثُمَّ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ وَتَفۡصِيلٗا
لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ١٥٤

وروسته مو موسی ته کتاب( تورات) ورکړ تر څو( د هغې زمانې) په نیک عمله خلکو باندې خپل نعمتونه اتمام او اکمال ته ورسوو، او د هرې مسألې احکام ورته په تفصیل سره بیان کړو، چې د هغوی لپاره د هدایت او رحمت وسیله شی( خلک وربانډې ښه وپوهیږی او عمل پرې وکړی) او له خپل رب سره په ملاقات او مخامخ کیدو یې باور او ایمان پیاوړی شی.

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ١٥٥

او دا له برکت نه ډک کتاب( قرآن) دی چې مونږ نازل کړی نو تاسو یې په اطاعت کولو سره د پرهیزګاری او تقوا لار ونیسئ، تر څو د الله تعالی د رحمت او مهربانئ وړ وګرځئ.

أَن تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلۡكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ مِن قَبۡلِنَا وَإِن كُنَّا عَن
دِرَاسَتِهِمۡ لَغَٰفِلِينَ ١٥٦

( د مبارک قرآن د نزول نه وروسته،د عربو دا عذر،کاملاً نامعقول، او نه منونکی دی) چې ووایئ:آسمانی کتاب خو زمونږ نه وړاندې دوو قومونو( یهودو او عیسویانو) ته نازل شوی، او مونږ یې له تعلیماتو او محتویاتو نه بیخی خبر نه یو.

أَوۡ تَقُولُواْ لَوۡ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمۡۚ فَقَدۡ
جَآءَكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن
كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنۡهَاۗ سَنَجۡزِي ٱلَّذِينَ يَصۡدِفُونَ عَنۡ
ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يَصۡدِفُونَ ١٥٧

( او دا بهانه او پلمه هم نشی جوړولی) چې ووایئ: که په مونږ کتاب نازل شوی وی نو د هغوی( یهودو او عیسویانو) په نسبت به لا ډیر زیات د هدایت په لاره برابر وو. دا دی تاسو ته د خپل رب له لوری د روښانه دلیل، هدایت او رحمت یوه لویه منبع او وسیله په لاس درغله، نو له هغه چا څخه به بل لوی ظالم څوک وی( بلکه لوی ظالم ترې بل نشته) چې د الله تعالی آیتونه دروغ وګڼی او له منلو یې ډډه وکړی.هغه کسان چې زمونږ له آیتونو نه د اعتراض په توګه مخ ګرځوی، ډیر زر به له سخت او دردوونکی عذاب سره مخامخ شی.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ
ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا لَمۡ تَكُنۡ
ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗاۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا
مُنتَظِرُونَ ١٥٨

( دوی ته د الله تعالی د وحدانیت او محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت د حقانیت ټول دلایل وړاندې شول نو بیا ولې ایمان نه راوړی؟) آیا ( د عذاب یا مرګ پرښتو ته) سترګې په لار دی، او که غواړی چې ستا رب ورته پخپله مخامخ راشی او یا ورته ستا د رب خاصې نښانې( لکه له لویدیځ نه لمر، دابة الارض او یاجوج ماجوج) راښکاره شی؟ په کومه ورځ چې ستا د رب دغه نښې راښکاره شی، بیا به هغو کسانو ته ایمان راوړل هیڅ ګټه و نه رسوی چې تر دغه وخته یې ایمان نه دی راوړی او یا یې له ایمان سره سره کوم نیک او د خیر کار نه دی کړی.(ای پیغمبره) ورته ووایه( په دغه اوسنی حالت کی چې تاسو یاست نو د عذاب) انتظار وباسئ او مونږ به هم سترګې په لار یو( چې په تاسو د الله پاک عذاب ووینو).

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍۚ إِنَّمَآ أَمْرُهُمْ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾

بیشکه هغه کسان چې خپل دین يې ټوټه ټوټه کړی او په ډلو ټپلو ويشل شوی او په جلا جلا لارو تللی، ستا ورسره هيڅ اړيکه نشته. د هغوی چارې الله تعالی ته سپارل شوی او د خپلو اعمالو په نتايجو او عواقبو به خبر شی.

مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾

هر څوک چې يوه نيکی وکړی نو لس چنده اجر به ورکړی شی او څوک چې د يوې بدی مرتکب شی نو( بې له دې چې د سزا په زياتولو) ورباندې ظلم وشی د هماغه يوې بدی په تناسب سزا ورکړی کيږی.

قُلْ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾

( ای پيغمبره) ووايه چې ماته مې رب د سمې او مستقيمې لارې او د ابراهيمی سپيڅلی مسلک د پيروی لارښوونه کړی. هغه ابراهيم چې مشرک نه و( او له انحرافی مسلکونو او قوانينو نه هم بيزاره و).

قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾

ووايه بيشکه چې زما لمونځ، زما عبادات(او قربانی) او ژوند او مرګ يوازې د الله رب العالمين لپاره وقف دی.

لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

له هغه سره په خدايی کی هيڅ سيال او شريک نشته او زه په همدې مکلف يم چې د خپل واحد او لاشريک رب عبادت وکړم او احکامو او فرمانونو ته يې( د خپل امت)د لومړنی شخص په حيث تسليم او تابع شم.

قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِى رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَىْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا
عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا
كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾

**وواية: آيا له الله تعالى نه غير، د بل خداى په لټه کې شم په داسې حال کې چې الله پاک د هر شی رب او پالونکی دی. هر څوک د خپل عمل ذمه وار او مسئول دی او هیڅوک د بل چا بار په اوږو نشی اخستی.**
**وروسته ټول د الله تعالی حضور ته ورګرځی او تاسو ته به د هغه څه د حقانیت په باب خبر درکړی چې تاسو ورباندې( له مؤمنانو سره) اختلاف درلود.**

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ ٱلْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ
دَرَجَٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ
رَّحِيمٌۢ ﴿١٦٥﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو ته یې( په ځمکه کی) خلافت درکړی او ځینو ته یې په مختلفو( مادی او معنوی) درجاتو سره په نورو برتری ورکړې، ترڅو مو په درکړی شویو نعمتونو وازمایی. بیشکه چې ستا رب( په دغه ازموینه کې ناکامو کسانو ته) د چټک عذاب ورکوونکی او( د لږو اشتباهاتو مرتکبینو ته) ډیر زیات ببښونکی او ( په بریالیو کسانو) ډیر زیات مهربان دی.**
**تمت سورة الانعام بفضل الله و رحمته ======================**